# د عبرانيانو په نوم خط

## پېژندګلو

د عبرانيانو د کِتاب بنيادى مقصد دا دے چې په ايماندارانو باندې د دې خبرې زور راوړى چې په خپل ځان کښې د صبر او برداشت ماده پيدا کړى او په حضرت عيسىٰ مسيح باندې په خپل ايمان کښې قائم پاتې شى. د دې کِتاب ليکوال مونږ ته د زړې لوظنامې مطلب د خُدائ پاک د منصوبې په رڼا کښې په حضرت عيسىٰ مسيح کښې ښائى، نو بيا د دې کِتاب ليکونکے حضرت عيسىٰ د خُدائ پاک د زوئ په حيثيت مونږ ته ښکاره کوى چې حضرت عيسىٰ د خُدائ پاک د جلال مظهر او د خُدائ پاک د ذات تصوير دے او ټول کائنات په خپل زورَور کلام سمبالوى. دا کِتاب هم د بنى اِسرائيلو قوم يعنې عبرانيانو ته د دې خبرې وضاحت کوى چې حضرت عيسىٰ مسيح په خپله د خُدائ پاک آخرى کلام دے. نو هيڅ څوک او هيڅ څيز هم د هغهٔ دا لوړ مقام نهٔ نيولے او نهٔ پوره کولے شى نهٔ کوم مذهبى رِواج او نهٔ کوم مذهبى مشر د هغهٔ نه مخکښې کېدے شى. او د دې خط پاتې حِصه د دې خبرې وضاحت کوى چې د حضرت عيسىٰ مسيح په حقله دا هر څهٔ رښتيا دى. د دې خط زياته حِصه په دې موضوع رڼا اچوى هغه څهٔ چې حضرت عيسىٰ په سولۍ سر ته ورسول دا د هم هغه کارونو او جذباتو آخر وو چې په مقدس کِتاب کښې ورته د سر ته رسولو اِشاره شوې ده. نو چې د دې نه پس بيا نور داسې کارونه ونهٔ شى. په دې خط کښې حضرت عيسىٰ د نوى او ښهٔ حضرت موسىٰ په حيثيت پېش کړے شوے دے څوک چې خپل قوم د ګناه د غلامۍ نه آزادوى، او يو نوى وعده شوى مُلک ته يې رهنمائى کوى. حضرت عيسىٰ مسيح هغه لوئ اِمام دے چې زمونږ ضعيف او کمزورى نيغ په نيغه د خُدائ پاک د رحم د چترۍ د سورې لاندې راولى. د عبرانيانو مذهبى بصيرت او دارومدار په هغه څيزونو دے کوم چې په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جنت کښې موجود دی نو دا د هغې يو تصور او سورے دے. او د ايمان په ميدان کښې حضرت عيسیٰ يو مکمل او پوره حقيقت دے. حضرت عيسیٰ په خپله آخری منلے شوی قربانی ده نو بيا د دې نه وروستو د پخوانو مذهبی دستورونو قربانو ګنجايش نۀ ليدلے کيږی. دا کِتاب ايماندارانو ته د تکليفونو او مصيبتونو په زمانه کښې ليکلے شوے دے، او په کښې د ايمان نه د اوړيدو په حقله ډير ځل خبر ورکړے شوے دے او د صبر او استقامت تاکيد په کښې شوے دے. د ټولو نه مشهور باب په کښې يوولسم باب دے. په کوم کښې چې د هغه زبرګانو فهرست دے چا چې په هره موقعه خپل ايمان محفوظ ساتلے دے برداشت يې کړے دے او قائم پاتې شوی دی. دا ټول برکتونه د خُدائ پاک له خوا نه حاصل شوی دی. د حفظ کولو دپاره ١٢:١ آيت ”نو په دې وجه بيا چې د ګواهانو دومره لويه ګڼه زمونږ نه چاپيره ده نو راځئ چې مونږ هم هر يو پيټے او هغه ګناه چې مونږ په آسانۍ سره انښلوی د ځان نه لرې کړُو، او راځئ چې په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلو چې مونږ له مقرر ده.“

## حضرت عيسیٰ کلمة اللّٰه دے

١ ۞١ په تيره زمانه کښې خُدائ پاک زمونږ پلار نيکۀ ته ډير ځله په مختلفو طريقو د نبيانو په وسيله خبرې وکړې. ۞٢ خو په دې آخره زمانه کښې هغۀ مونږ ته د خپل زوئ په وسيله خبرې وکړې چا چې هغه د ټولو څيزونو وارث مقرر کړو او د هغۀ په وسيله يې کائنات پيدا کړل. ۞٣ هغه د خُدائ د جلال مظهر او هغه د خُدائ د ذات تصوير دے او هغه ټول کائنات په خپل زورَور کلام سمبالوی. کله چې هغۀ زمونږ ګناهونه پاک کړل نو په آسمان کښې د قادر مطلق خُدائ ښی لاس ته کښيناستو.

## حضرت عيسیٰ د فرښتو نه لوئ دے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ نو څنګه چې زوئ د فرښتو نه لوئ دے نو دغه شان د هغهٔ نوم د هغوئ نه لوئ دے
کوم چې هغهٔ ته په ميراث کښې مِلاو شوے دے. ۵ ځکه چې خُدائ پاک کله هم
کومې فرښتې ته دا نهٔ دی فرمائيلی چې، ”تهٔ زما زوئ يې، او د نن نه زهٔ ستا پلار شوم.“
او بيا دا چې، ”زهٔ به د هغهٔ پلار يم او هغه به زما زوئ وی.“ ۶ او بيا چې خُدائ پاک
خپل اول پيدا شوے، دُنيا ته راولی نو هغه فرمائی چې، ”د خُدائ پاک ټولې فرښتې دې
هغهٔ ته سجده وکړی.“ ۷ او د فرښتو په حقله فرمائی چې، ”هغه د خپلو فرښتو نه
هواګانې جوړوی او د خپلو خادِمانو نه د اور شُغلې جوړوی.“ ۸ خو خپل زوئ ته
فرمائی چې، ”اے خُدايه پاکه، ستا تخت به تل تر تله وی او د صداقت امسا ستا د
بادشاهئ امسا ده. ۹ تا د صداقت سره مينه او د شرارت نه نفرت وکړو، په دې وجه
خُدائ پاک، يعنې ستاسو خُدائ پاک، تهٔ د خوشحالئ په تيلو د خپلو ملګرو په نسبت
زيات مسح کړې.“ ۱۰ او، ”اے مالِکه، تا د زمکې بنياد د ازل نه کېښودو او آسمان ستا
د لاس کار دے. ۱۱ هغه به فنا شی خو تهٔ به باقی پاتې يې، او هغه ټول به د جامو په
شان زاړهٔ شی. ۱۲ تهٔ به هغوئ د زړې چُوغې په شان راونغاړې او د جامو په شان به
هغوئ بدل کړے شی. خو تهٔ به تل تر تله هم هغه يې او د تل دپاره به قائم دائم يې.“ ۱۳
خو خُدائ پاک فرښتې ته کله هم نهٔ دی فرمائيلی چې، ”تهٔ زما ښی لاس ته کښېنه ترڅو
چې زهٔ ستا دشمنان ستا د پښو د لاندې چوکئ جوړ نهٔ کړم.“ ۱۴ ولې ټولې فرښتې
خِدمت ګزار روحونه نهٔ دی کوم چې د هغه خلقو د خِدمت دپاره رالېږلے شوی دی
څوک چې د خلاصون وارثان دی؟

## لوئ خلاصون

۲ ۱ په دې وجه مونږ له په کار دی چې په هغه څهٔ ډېر غور وکړُو څهٔ چې مونږ
واورېدل، نو هسې نه چې مونږ د دې نه لرې لاړ شُو او ونهٔ ښوئيږو. ۲ ځکه کوم کلام
چې د فرښتو په وسيله ورکړے شوے وو هغه قائم پاتې شو او هرې خطا او نافرمانئ ته

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټیک سزا مِلاو شوه، ۳ نو مونږ څنګه د سزا نه بچ کیدے شُو کۀ مونږ د دې لوئ خلاصون نه بې‌پرواه شُو، د کوم چې اول مالِک اعلان وکړو او بیا هغه خلقو وکړو چا چې هغه واورېدلو؟ ۴ خُدائ پاک هم د خپلو نښو، عجیبه کارونو او قِسما قِسم معجزو په کولو او د خپلې مرضۍ په مطابق د روحُ القُدس د نعمتونو په ویشلو د هغې تصدیق وکړو.

## د خلاصون بانی

۵ نو خُدائ پاک هغه راتلونکې دُنیا چې مونږ یې بیان کوُو د فرښتو تابع نۀ کړه. ۶ بلکې په صحیفو کښې یو ځائ وئیل شوی دی چې، "انسان څۀ وی چې تۀ پرې نظر ساتې، نو بنیادم څۀ وی چې تۀ یې خیال ساتې؟ ۷ تا هغه د فرښتو نه لږ کم کړے دے او ورته دې د جلال او عزت تاجورپه سر کړے دے. ۸ او تا په هر څیز پوره اختیار ورکړے دے او هر څۀ دې د هغۀ د پښو لاندې کړی دی." نو چې خُدائ پاک ټول څیزونه د هغوئ تابع کړل نو هغۀ هیڅ څیز داسې پرې نۀ ښودلو چې هغه یې د هغۀ تابع کړے نۀ وی، خو مونږ تر اوسه ټول څیزونه د هغۀ تابع نۀ وینو. ۹ خو مونږ عیسیٰ ګورو، څوک چې د لږ وخت دپاره د فرښتو نه کم کړے شو، خو اوس د مرګ د تکلیف تېرولو په وسیله هغۀ ته د جلال او عزت تاج په سر شو، او داسې د خُدائ پاک په فضل هغۀ د ټولو دپاره مرګ وزغملو. ۱۰ نو خُدائ پاک دا ټول څیزونه د خپل ځان دپاره پیدا کړی دی او د هغۀ په وسیله پیدا شوی دی، نو هغۀ دا مناسب وګڼل چې ډېر زامن په جلال کښې داخل کړی، نو چې د تکلیفونو په وسیله د خلاصون بانی کامِل کړی. ۱۱ ځکه هغه څوک چې پاکوونکے دے او هغوئ څوک چې پاکیږی د ټولو پلار یو دے، نو په هم دې وجه عیسیٰ هغوئ ته په ورور او خور وئیلو نۀ شرمیږی. ۱۲ نو هغه فرمائی چې، "زۀ به خپلو خلقو ته ستا د نوم لوئی بیان کړم، ستا ثناء صِفت به زۀ د جماعت په مینځ کښې وکړم." ۱۳ او بیا دا چې، "زۀ به په هغۀ باور وکړم." او، "ګوره، زۀ د هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بچو سره دلته موجود يم چې خُدائ پاک ما ته راکړی دی.“ ۱۴ بيا لکه چې د هغهٔ بچی
انسانان دی، دغه شان عيسىٰ هم انسان شو د دې دپاره چې د مرګ په وسيله هغه څوک
چې په مرګ يې قُدرت حاصل وو، يعنې اِبليس، تباه کړی ۱۵ او هغوئ آزاد کړی څوک
چې ټول عُمر د مرګ د يرې په غلامئ کښې ګرفتار وُو. ۱۶ ځکه چې په حقيقت کښې
هغه د فرښتو دپاره نه، بلکې د اِبراهيم د نسل مدد دپاره راغلو. ۱۷ هم دغه وجه ده چې
عيسىٰ ته په هر لحاظ د خپلو وروڼو په شان جوړېدل په کار وُو چې هغه د خُدائ پاک په
خِدمت کولو کښې داسې لوئ اِمام شی چې زړهٔ سواندے او وفادار وی، او د خلقو د
ګناهونو دپاره د خپل ځان کفاره ورکړی. ۱۸ ځکه چې هغه په خپله په تکليفونو کښې
وآزمائيلے شو نو هغه د دې قابل دے چې د هغوئ مدد وکړی څوک چې آزمائيلے
کيږی.

## حضرت عيسىٰ د موسىٰ نه لوئ دے

۳ ۱ نو ځکه اے پاکو وروڼو او خوېندو، تاسو چې په آسمانی بلنه کښې شريک يئ،
په هغه رسول او مشر اِمام عيسىٰ غور وکړئ د چا چې مونږ اِقرار کوُو. ۲ هغه د هغه
خُدائ پاک وفادار شو چا چې هغه منتخب کړے وو او لکه څنګه چې موسىٰ د خُدائ
پاک په ټول کور کښې وفادار وو. ۳ خو عيسىٰ د موسىٰ نه زيات د جلال لائق دے،
لکه څنګه چې د کور جوړونکے د کور نه زيات عزتمند وی. ۴ ځکه چې د هر يو کور
څوک نه څوک جوړونکے وی، خو د ټولو څيزونو جوړونکے خُدائ پاک دے. ۵
موسىٰ د خُدائ پاک په ټول کور کښې د خادِم په شان وفادار وو د دې دپاره چې د
راتلونکو خبرو ګواهی ورکړی. ۶ خو مسيح د زوئ په حيثيت د خُدائ په کور
اختيارمند دے، او مونږ د هغهٔ کور يُو کهٔ چرې مونږ په هغه اعتماد او فخر قائم پاتې شُو
چې د اُميد سره تعلق ساتی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ په دې وجه ځنګه چې روحُ القُدس فرمائى چې، ”کۀ تاسو نن ورځ د هغۀ آواز
واورئ، ٨ نو خپل زړونه مۀ سختوئ ځنګه چې مو د بغاوت په وخت کښې کړى وُو
او د آزميښت په ورځ مو په بيابان کښې کړى وُو، ٩ چرته چې ستاسو پلار نيکۀ زما
جاج او آزميښت وکړو او تر څلويښتو کالو پورې هغوئ زما کارونه وليدل. ١٠ په دې
وجه زۀ هغې پيړۍ ته غصه وم او ما وفرمائيل چې هميشه د دوئ زړونه زما نه لرى
شوى دى، او دوئ زما لارې ونۀ پېژندلې. ١١ نو ما په خپله غصه کښې قسم وخوړلو
چې، کله به هم هغوئ زما په آرام کښې داخل نۀ شى.“ ١٢ نو ورونړو او خوېندو، خبردار
شئ، په تاسو کښې دې د چا داسې بد او بې‌ايمانه زړۀ نۀ وى چې د ژوندى خُدائ پاک نه
واوړى. ١٣ بلکې هره ورځ يو بل له خبردارے ورکوئ، ترڅو چې نن ورځ ده نو چې په
تاسو کښې څوک د ګناه د فريب په وجه سخت زړۀ نۀ شى. ١٤ ځکه چې مونږ هم د
مسيح سره شريک يُو خو کۀ مونږ په خپل اولنى باور تر آخره ټينګ او قائم پاتې شُو.
١٥ لکه چې صحيفې فرمائى چې، ”کۀ تاسو نن ورځ د هغۀ آواز واورئ، نو خپل زړونه
مۀ سختوئ لکه چې تاسو د بغاوت په وخت کښې کړى وُو.“ ١٦ نو اوس دا څوک وو
چا چې هغه آواز واورېدو او بيا هم سرکشه شول؟ دا هغوئ ټول نۀ وُو چا چې د موسىٰ
په مشرۍ کښې مِصر پرېښودو؟ ١٧ او خُدائ پاک د چا نه تر څلويښتو کالو پورې خفه
وو؟ ولې دا هغوئ نۀ وُو، چا چې ګناه وکړه او د چا مړى چې په بيابان کښې پراتۀ وُو؟
١٨ او چا ته هغۀ قسم وخوړلو چې، هغوئ به زما په آرام کښې داخل نۀ شى؟ نو دا
هغوئ نۀ وُو چا چې نافرمانى وکړه؟ ١٩ نو مونږ وليدل چې د بې‌ايمانۍ په وجه هغوئ د
داخلېدو قابل نۀ شول.

## ۴

١ نو په دې وجه چې د هغۀ په آرام کښې د داخلېدو وعده لا کولاو ده، نو مونږ په
دې يرېږو چې تاسو به هغې ته په رسېدو ناکامه شئ. ٢ ځکه چې زېرے مونږ ته هم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ په شان راورسېدو، خو هغه کلام چې هغوئ واورېدو هغوئ ته يې فائده ورنۀ کړه،
ځکه چې هغوئ په ايمان کښې د هغوئ سره په اتفاق نۀ وُو چا چې کلام واورېدو. ۳
او مونږ چا چې ايمان راوړو په هغه آرام کښې داخلېږو لکه څنګه چې خُدائ پاک
وفرمائيل چې، ”نو ما په خپله غصه کښې قسم وخوړلو چې، کله به هم هغوئ زما په آرام
کښې داخل نۀ شی،“ کۀ څۀ هم چې دا آرام د دُنيا د جوړېدو نه مخکښې تيار شوے وو.
۴ ځکه چې هغۀ په يوه موقع د اوومې ورځې په حقله داسې وفرمائيل چې، ”او خُدائ
پاک په خپلو کارونو پوره کولو سره په اوومه ورځ څۀ ونۀ کړل.“ ۵ نو په هم دې ځائ
کښې هغه بيا فرمائی چې، ”کله به هم هغوئ زما په آرام کښې داخل نۀ شی.“ ۶ چا
چې په شروع کښې دا زيرے واورېدو نو هغوئ په هغه آرام کښې داخل نۀ شول ځکه
چې هغوئ نافرمانی وکړله، خو بعضې خلق داسې دی چې په دې کښې به داخل شی.
۷ نو بيا خُدائ پاک د دې آرام دپاره يوه خاص ورځ مقرره کړه او د دومره مودې نه
پس هغۀ ورته د داؤد په کِتاب کښې ”د نن ورځ“ وفرمائيل، لکه څنګه چې هغۀ مخکښې
فرمائيلی وُو، ”کۀ تاسو نن ورځ د هغۀ آواز واورئ، نو بيا خپل زړونه مۀ سختوئ.“ ۸
ځکه کۀ چرې يشوَع هغوئ په آرام کښې داخل کړی وے نو خُدائ پاک به د هغې نه پس
د بلې ورځې په حقله ذکر نۀ وو کړے. ۹ نو بيا د خُدائ پاک د خلقو دپاره د سبت
ورځ د آرام ورځ تر اوسه انتظار کوی. ۱۰ ځکه هغه څوک چې د خُدائ پاک په آرام
کښې داخل شی، نو هغوئ به هم د خُدائ پاک په شان د خپلو کارونو نه په آرام شی.
۱۱ نو راځئ چې مونږ په هغه آرام کښې د داخلېدو دپاره هر کوشش وکړُو نو چې په
مونږ کښې څوک هم د هغوئ په شان د نافرمانئ په وجه ناکامه نۀ شُو. ۱۲ بېشکه چې
د خُدائ پاک کلام ژوندے او اثرناک او د هرې دوه مخيزې تُورې نه زيات تېرۀ دے،
هغه د انسان د روح او ځان نه تېرېږی او جوړونه د پلو نه جدا کوی او د زړۀ د خيالونو
او ارادو جاج اخلی. ۱۳ او د خُدائ پاک نه يو مخلوق هم پټ نۀ دے بلکې د هغۀ د
سترګو د وړاندې ټول بربنډ او بېپردې پراتۀ دی چا ته به چې مونږ حساب ورکوو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# حضرت عيسیٰ مشر اِمام دے

۱۴ زمونږ داسې لوئ مشر اِمام شته چې د آسمانونو نه تېر شو يعنې عيسیٰ چې د
خُدائ پاک زوئ دے، نو راځئ چې مونږ د خپل ايمان په اِقرار ټينګ پاتې شُو. ۱۵ ځکه
چې زمونږ داسې مشر اِمام نۀ دے څوک چې زمونږ په کمزورتياو کښې مونږ سره
همدردی ونۀ کړی بلکې هغه په ټولو خبرو کښې زمونږ په شان وآزمائيلے شو خو بيا هم
بېګناه وو. ۱۶ نو راځئ چې مونږ د خُدائ پاک د فضل تخت ته ځان په اعتماد سره
ورنزدې کړُو نو چې په مونږ رحم وشی او هغه فضل حاصل کړُو چې د حاجت په وخت
زمونږ مدد وکړی.

**۵** ۱ هر مشر اِمام د انسانانو نه د دې دپاره منتخب کېږی چې خُدائ پاک ته د خلقو
نمائندګی وکړی او د انسانانو د ګناهونو دپاره نذرانې او قربانئ پېش کړی. ۲ او هغه د
دې جوګه دے چې د ناپوهه او ګمراهانو سره په نرمئ سلوک وکړی ځکه چې په هغۀ
کښې هم هغه شان کمزورتيا شته دے. ۳ نو په دې وجه هغه ضرور د خپلو او هم د
خلقو د ګناهونو دپاره قربانی پېش کوی. ۴ او هيڅوک هم په خپله د اِمامت دا عزت
نۀ شی حاصلولے خو صرف د خُدائ پاک په مرضئ يې حاصلولے شی لکه څنګه چې
هارون حاصل کړے وو. ۵ دغه شان مسيح هم د مشر اِمام عزت پخپله حاصل نۀ
کړو بلکې هغه، هغه چا منتخب کړو چا چې ورته فرمائيلی وُو چې، "تۀ زما زوئ يې او د
نن نه زۀ ستا پلار شوم." ۶ لکه څنګه چې هغه په بل ځائ کښې فرمائی چې، "تۀ د
مَلِک‌صِدق په شان تل تر تله اِمام يې." ۷ کله چې عيسیٰ په زمکه ژوند تېرولو نو په
هغه ورځو کښې هغۀ په چغو او اوښکو بهېدلو سره خُدائ پاک ته دُعا او مِنت زاری
وکړه چا چې هغه د مرګ نه بچ کولے شو، او د هغۀ دُعا قبوله شوه ځکه چې هغۀ په
پوره توګه خپل ځان خُدائ پاک ته وقف کړے وو. ۸ اګر چې هغه زوئ وو، خو د
تکليفونو په تېرولو هغۀ فرمانبرداری زده کړه. ۹ نو چې هغه کامِل کړے شو نو هغه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ټولو منونکو دپاره د ابدی خلاصون وسیله وګرځېدو. ۱۰ او هغهٔ د خُدائ پاک د
طرفه د مَلِکصِدق په شان مشر اِمام منتخب شو.

## د ګمراه کېدو خلاف خبردارے

۱۱ په دې حقله مونږ سره ډېرې خبرې دی خو دا تشریح کول سخت کار دے، ځکه
چې تاسو په پوهېدو کښې سست يئ. ۱۲ نو په دې وخت کښې خو تاسو له اُستاذان
کېدل په کار وُو، خو تاسو ته د يو کس ضرورت دے چې د خُدائ پاک د کلام بنيادی
اصُول بيا در زده کړی، نو تاسو ته د ماشوم په شان د پيو ضرورت دے نه چې د سخت
خوراک. ۱۳ ځکه هر څوک چې پئ څښی، هغه لا ماشوم وی او د صداقت د کلام
تجربه يې نهٔ وی. ۱۴ خو سخت خوراک د بالغه کسانو دپاره وی ځکه چې هغوئ په
تجربې سره د ښهٔ او بد تر مينځه فرق کولے شی.

۶ ۱ نو راځئ چې د مسيح په حقله د ابتدائی تعليم خبرې پرېږدو او د بلوغيت په
طرف قدم اوچت کړُو. مونږ ته د دې ابتدائی کارونو د بار بار کولو ضرورت نشته لکه د
شرارت اميز عملونو نه توبه کول او په خُدائ پاک ايمان راوړل ۲ او تاسو ته نور د
بپتسمو او لاس کېښودلو او د مړو نه د بيا ژوندی کېدلو او د تل عدالت په حقله د تعليم
ورکولو ضرورت نشته. ۳ او کهٔ د خُدائ پاک رضا وی نو مونږ به هم دغه کارونه
کوُو. ۴ ځکه چې هغوئ ته دا ناممکنه ده چې بيا توبې ويستلو ته جوړ شی څوک چې
يو ځل رڼا ته راغلی وی، او د آسمانی نعمتونو خوند يې اخستے وی، او په روحُ القُدس
کښې شريک شوی وی ۵ او چې د خُدائ پاک د کلام نېکی او د راتلونکی زمانې د
قوتونو مزه يې اخستی وی. ۶ او څوک چې د خُدائ پاک نه واوړی نو دا ناممکنه ده
چې څوک هغوئ بيا توبه ويستلو ته راواړوی نو ځکه چې هغوئ په خپله د خُدائ پاک
زوئ په دويم ځل په سولئ کوی او په خلقو کښې يې شرموی. ۷ هغه زمکه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باران په اوبو سيرابه شي کوم چې په هغې مسلسل ورېږي او د هغوئ دپاره ښۀ فصل
پيدا کوي څوک چې په هغې کښې کرونده کوي، نو هغه زمکه د خُدائ پاک د طرفه
برکت مومي. ۸ خو کۀ دا زمکه ازغي او جاړي زرغونوي نو دا بې‌فائدې ده او زر به
لعنتي شي او د دې اَنجام به سوزول وي. ۹ ګرانو دوستانو، اګر چې مونږ ستاسو په
حقله داسې خبرې کوُو خو مونږ په دې باور نۀ يُو چې دا به ستاسو په حقله وي. مونږ په
دې خبره مطمئن يُو چې د خلاصون نه به ښۀ مېوه تاسو ته مِلاو شي. ۱۰ ځکه چې
خُدائ پاک بې‌اِنصافه نۀ دے، هغه به ستاسو کار او هغه مينه هېره نۀ کړي چې د هغۀ د
نوم د خاطره مو د مقدسينو په خِدمت کولو کښې څرګنده کړه او اوس يې هم کوئ. ۱۱
او مونږ دا غواړو چې په تاسو کښې دې هر يو په پوره اُميد سره تر آخره هم دغه شان
کوشش کوي، ۱۲ نو د دې دپاره چې تاسو سست نۀ شئ بلکې د هغوئ په نقش قدم
شئ څوک چې د ايمان او صبر په وسيله د لوظ وارثان دي.

## د خُدائ پاک پوخ لوظ

۱۳ کله چې خُدائ پاک د اِبراهيم سره لوظ وکړو نو د هغۀ نه بل څوک لوئ نۀ وو چې
قسم يې پرې کړے وے نو ځکه هغۀ په خپل نوم قسم وکړو. ۱۴ هغۀ وفرمائيل چې، ”زۀ
به تا له په رښتيا په برکتونو برکتونه درکوم او ستا اولاد به ډېر زياتوم.“ ۱۵ او دغه شان
اِبراهيم په صبر کولو هغه لوظ حاصل کړو. ۱۶ انسانان يقيناً چې د خپل ځان نه په
لوئ څيز قسم خوري او د هغوئ د هر يو بحث آخري ثبوت د قسم سره وي. ۱۷ هم په
دې طريقه کله چې خُدائ پاک وغوښتل چې د وعدې وارثانو ته خپل هغه نۀ بدلېدونکے
مقصد نور هم روښانه کړي، نو هغۀ د دې د ضمانت دپاره قسم هم وکړو. ۱۸ نو د دې
دواړو نۀ بدلېدونکو خبرو په وجه دا ناممکنه ده چې خُدائ پاک غلط ثابت شي، او مونږ
چا چې په هغۀ کښې پناه اخستې ده نو مونږ دې په ډېره زړۀ ورتيا سره هغه اُميد راټينګ
کړُو چې زمونږ په وړاندې دے. ۱۹ دا زمونږ اُميد دے او دا زمونږ د ژوند دپاره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

رښتینے او مضبوط لنګر دے او دا داسې اُمید دے چې د پړدې دننه مقدس مقام ته
رسېدلے دے، ⑳ چرته چې عیسیٰ زمونږ نه وړاندې زمونږ دپاره لاړو او د تل دپاره د
مَلِک‌صِدق په شان مشر اِمام جوړ شو.

## د مَلِک‌صِدق د اِمامت طریقه

٧ ① مَلِک‌صِدق، د شالیم بادشاه او د خُدائ تعالیٰ یو اِمام وو. اِبراهیم چې بادشاهانو
له د ماتې ورکولو نه واپس راتلو نو مَلِک‌صِدق سره مِلاو شو نو هغۀ اِبراهیم له برکت
ورکړو. ② او بیا هغۀ ته اِبراهیم د غنیمت لسمه حِصه ورکړه. مَلِک‌صِدق د نوم معنیٰ
”د صداقت بادشاه ده“ او د شالیم بادشاه معنیٰ ”د صُلح بادشاه ده.“ ③ هغه بې‌پلاره،
بې‌موره، او بې‌نسب‌نامې دے. او نۀ د هغۀ د ژوند شروع او نۀ آخر شته، خو د خُدائ
پاک د زوئ په شان هغه تل تر تله اِمام دے. ④ وګورئ هغه څومره عظیم انسان وو تر
دې چې د قوم نیکۀ اِبراهیم ورته د غنیمت د مال لسمه حِصه ورکړه. ⑤ او هر څوک
چې د لیوی اولاد وی هغوئ ته به اِمامت ملاویږی او په شریعت کښې هغوئ ته دا حکم
دے چې د هغه خلقو نه چې د هغوئ د خپل قوم نه دی هم لسمه حِصه راغونډه کړی،
کۀ څۀ هم چې هغوئ د اِبراهیم اولاد هم وی. ⑥ خو مَلِک‌صِدق د هغوئ د نسب نه جدا
وو، هغۀ د اِبراهیم نه هم لسمه حِصه راغونډه کړه او مَلِک‌صِدق اِبراهیم له برکت ورکړو
چا سره چې خُدائ پاک د مخکښې نه وعده کړې وه. ⑦ په دې کښې د بحث خبره
نشته چې ورکوتے د لوئ نه برکت مومی. ⑧ او هغه اِمامان څوک چې لسمه حِصه
راټولوی انسانان دی څوک چې مړ کېدونکی دی، خو مَلِک‌صِدق د هغوئ نه لوئ دے،
ځکه چې مونږ ته وئیلے شوی دی چې هغه ژوندے دے. ⑨ نو مونږ دا وئیلے شُو چې
لیوی څوک چې لسمه حِصه راټولوی هغۀ په خپله د اِبراهیم په وسیله لسمه حِصه
ورکړه. ⑩ ځکه کله چې مَلِک‌صِدق د اِبراهیم سره مِلاو شو نو لیوی لا د خپل نیکۀ
اِبراهیم په وجود کښې وو. ⑪ نو بیا کۀ د لیوی اِمامانو په طریقه خلقو ته شریعت

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړے شو او د هغوئ د طریقې په مطابق خلق کامِل کېدے شول نو بیا د دې خبرې
څۀ حاجت وو چې بل اِمام یعنې مَلِک‌صِدق دې د هارون په ځائ مقرر کړے شی. ۱۲
ځکه کله چې په اِمامت کښې بدلون راشی نو بیا دا هم ضروری وی چې شریعت هم بدل
کړے شی. ۱۳ نو چې د چا په حقله چې دا خبرې کیږی، هغه د بلې قبیلې دے د کومې
نه چې کله هم چا د قربان‌گاه خِدمت نۀ دے کړے. ۱۴ ځکه چې دا ښکاره خبره ده
چې زمونږ مالِک د یهوداه د قبیلې نه پیدا شو او د دې قبیلې په حقله موسیٰ د اِمامت هیڅ
ذکر نۀ دے کړے. ۱۵ دا خبره نوره هم صفا شوه د کله نه چې یو بل اِمام، لکه د
مَلِک‌صِدق په شان راښکاره شی، ۱۶ څوک چې د نسبی اصُولو په مطابق نه، بلکې د
غیر فانی ژوندون د قوت په مطابق اِمام مقرر شو. ۱۷ ځکه چې د هغۀ په حق کښې دا
تصدیق شوے دے چې، ”تۀ به د مَلِک‌صِدق په شان تل تر تله اِمام یې.“ ۱۸ غرض دا
چې اولنی احکام یو طرف ته کړے شول ځکه چې دا کمزوری او بې‌کاره وو، ۱۹ ځکه
چې شریعت هیڅ څیز کامِل کړے نۀ دے، او د هغې په ځائ یو قوی اُمید جوړ کړے
شو چې د هغۀ په وسیله مونږ خُدائ پاک ته نزدې ورتلے شُو. ۲۰ د هغۀ تصدیق د قسم
سره وشو. نور اِمامان بغیر د قَسم نه مقرر شوی وُو، ۲۱ خو عیسیٰ په قَسم سره اِمام
مقرر کړے شو ځکه چې خُدائ پاک په خپله هغۀ ته وفرمائیل چې، ”مالِک قَسم وخوړو
او هغه به د دې نه وروستو نۀ شی چې تۀ به د تل دپاره اِمام یې.“ ۲۲ هم د دې قسم په
وجه عیسیٰ د یوې قوی وعدې ضامن شو. ۲۳ پخوا د رِواج په مطابق د اِمامانو شمېر
زیات وو ځکه چې مرګ هغوئ د خدمت کولو په عُهده قائم پرې نۀ ښودل. ۲۴ خو د
عیسیٰ اِمامت ابدی دے ځکه چې هغه تل تر تله ژوندے دے. ۲۵ نو په دې وجه هغه
اوس او همېشه کولے شی چې څوک هم د هغۀ په وسیله خُدائ پاک ته راځی هغه هغوئ
ته خلاصون ورکولے شی ځکه چې هغه د هغوئ د شفاعت دپاره همېشه ژوندے دے.
۲۶ ځکه چې مونږ ته هم د داسې مشر اِمام ضرورت دے چې هغه پاک او معصوم او
بې‌داغه وی، او د ګناهګارانو نه جدا او د آسمانونو نه اوچت وی. ۲۷ او هغه دې د نورو
مشرانو اِمامانو په شان د دې محتاج نۀ وی چې هره ورځ اول د خپلو ګناهونو دپاره او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا د اُمت د ګناهونو دپاره قربانئ ورکوی ځکه چې دا کار هغهٔ په یو ځل د ټولو دپاره
وکړو کله چې یې خپل ځان قربان کړو. ۲۸ نو شریعت داسې خلق مشران اِمامان
مقرروی چې کمزورې وی، خو د شریعت نه وروستو خُدائ پاک خپل زوئ په قَسم
خوړلو سره اِمام مقرر کړو، ځوک چې د تل دپاره کامِل کړې شوې دے.

## حضرت عیسیٰ د غوره لوظ مشر اِمام

۸ ۱ اوس چې کومې خبرې مونږ کوُو په هغې کښې د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې
زمونږ یو داسې مشر اِمام دے ځوک چې په آسمانونو کښې د قادر مطلق خُدائ د تخت
ښی لاس ته ناست دے. ۲ هغه په هغه مقدس ځائ او هغه حقیقی خیمې کښې خادِم
دے چې انسان نهٔ بلکې مالِک خُدائ ودرولې ده. ۳ ځکه چې هر مشر اِمام د نذرانو
او قربانو ورکولو دپاره مقرر دے، نو په کار دی چې زمونږ د اِمام سره هم د ورکولو
دپاره څهٔ وی. ۴ کهٔ هغه په زمکه وے نو هغه به اِمام نهٔ وے، ځکه چې نور اِمامان
شته دے چې د شریعت په مطابق نذرانې پیش کړی. ۵ هغوئ چې په مقدس ځائ
کښې عبادت کوی، نو هغه د هغه آسمانی عبادت نقل او تصویر دے. ځکه چې موسیٰ
کله خیمه ودروله نو هغهٔ ته دا هدایت ورکړې شُو چې، "ګوره چې دا د هغې نقشې په
مطابق جوړه کړې چې کومه ما درته په غرهٔ باندې ښودلې ده." ۶ خو کوم خدمت
چې عیسیٰ ته ورکړې شوې دے د زوړ لوظ نه د هغهٔ مینځګړتوب ډېر زیات بهتر دے
ځکه چې دا لوظ د ښهٔ وعدو په بنیاد شوې دے. ۷ ځکه چې کهٔ اولنے لوظ بې‌نقصه
وو نو بیا به د دویم لوظ ضرورت نهٔ پیښیدو. ۸ خو خُدائ پاک په خلقو کښې نقصان
پیدا کړو او هغهٔ وفرمائیل، "مالِک فرمائی چې هغه وخت راروان دے چې زهٔ به د
اِسرائیل او د یهوداه د خلقو سره یو نوے لوظ وکړم. ۹ دا به د هغه لوظ په شان نهٔ
وی کوم چې ما د هغوئ د پلار نیکهٔ سره کړے وو کله چې ما هغوئ د لاس نه ونیول او
د مِصر نه مې بهر وویستل، ځکه چې هغوئ ما سره کړے لوظ مات کړو. نو زهٔ به هم د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ څۀ پرواه نۀ کوم، مالِک فرمائی. ١٠ خو دا هغه نوے لوظ دے کوم به چې زۀ
پس د دې نه د بنی اِسرائیلو د قبیلې سره وکړم، زۀ به خپل شریعت د هغوئ په مازغو
کښې واچوم او د هغوئ په زړونو باندې به یې ولیکم. زۀ به د هغوئ خُدائ پاک یم او
هغوئ به زما خلق وی. ١١ نور به د هغوئ نه یو کس هم خپل ګاونډی ته، او یا خپل
ورور ته دا تعلیم نۀ ورکوی چې مالِک خُدائ وپېژنه، ځکه چې د وړو نه واخله تر لویو
پورې به هغوئ ټول ما پېژنی. ١٢ ځکه چې زۀ به د هغوئ په قصورونو رحم کوم او زۀ
به نور د هغوئ ګناهونه هیڅکله نۀ یادوم.“ ١٣ کله چې خُدائ پاک د نوې لوظ خبرې
وکړې نو اولنے یې منسوخ کړو، او کوم څیز چې منسوخ او زوړ شی هغه به زر فنا شی.

## دُنیاوی او آسمانی عبادتخانې

9 ١ غرض دا چې په اولنی لوظ کښې هم د عبادت او د زمکنی عبادتخانې هدایت
وو. ٢ نو یوه خیمه جوړه کړے شوه چې په اوله حِصه کښې ډیوټ، مېز او پېش
کړے شوې روټۍ وې، چې ورته مقدس ځائ وائی. ٣ او د دویمې پردې نه وروستو
هغه خیمه وه چې ورته زیات مقدس ځائ وائی. ٤ په هغې کښې د سرو زرو د خوشبو
قربانګاه او د لوظ صندوق وو چې په څلورو واړو طرفو یې سرۀ زر لګېدلی وُو. په دې
کښې د من نه ډک یو د سرو زرو منګے، او د هارون زرغونه شوې امسا، او د کاڼو
تختۍ چې پرې حُکمونه لیکلے شوی وُو. ٥ د لوظ صندوق دپاسه د وزرو والا مخلوق
جوړ شوی وُو چې د کفارې په تخت یې سورے کړے وو. مونږ اوس دا خبرې په نور
تفصیل نۀ شُو بیانولے. ٦ هر کله چې دا څیزونه دغه شان تیار کړے شول نو اولنۍ
خیمې ته به اِمامان همېشه وخت په وخت ورننوتل او خپل د عبادت کار به یې کولو.
٧ خو دویمې ته صرف مشر اِمام په ټول کال کښې یو ځل ورتلو، او بغیر د هغه وینې
نه نۀ ورتلو چې هغۀ د ځان دپاره او د اُمت د ناپوهۍ د ګناهونو دپاره پېش کوله. ٨ په
دې طریقه روحُ القُدس دا اِشاره کوی چې تر اوسه پورې زیات مقدس ځائ ته لار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلاصه شوې نۀ ده لا ترڅو چې پخوانۍ خېمه ولاړه وه. ۹ دا خېمه د موجوده زمانې
يو مِثال دے او په دې کښې داسې نذرونه او قربانۍ ورکړے شوې چې په هغې د عبادت
کوونکی ضمير پاک کولے نۀ شو. ۱۰ بلکې د هغوئ تعلق تش د خوراک څښاک او د
پاکېدو تر مختلفو رسمونو پورې وو. دا احکامات تر هغې پورې مقرر دی ترڅو چې هغه
وخت راشي چې هر څۀ صحيح کړی. ۱۱ خو کله چې مسيح د ښو څيزونو دپاره د
مشر اِمام په طور راغے نو هغۀ په هغه لويه او کامله خېمه کښې خِدمت وکړو، چې
انسان هغه خېمه نۀ ده جوړه کړې او نۀ هغه د دې دُنيا ده. ۱۲ هغه يو ځل د ټولو دپاره
زيات مقدس ځائ ته ننوتو، د چېلو او سخو وينو سره نه بلکې په خپله وينه يې دغه رنګ
ابدی خلاصون زمونږ دپاره حاصل کړو. ۱۳ کۀ چرې د چېلو او غوَيانو په وينو نوستلو
او د سخو په ايرو سره ناپاک خلق او د هغوئ بدنونه پاک کولے شی، ۱۴ نو د مسيح
په وينه به لا نور څومره پاک شی، چا چې د ابدی روح په وسيله خپل ځان خُدائ پاک ته
د بېعيبه قربانۍ په طور پېش کړو، چې هغه زمونږ ضمير شرارت اميز عملونو نه پاک
کړی او چې مونږ د ژوندی خُدائ پاک عبادت وکړُو. ۱۵ په دې وجه مسيح د نوی لوظ
مينځګړے دے. نو مقصد يې دا دے چې څوک خُدائ پاک بللی دی چې هغوئ هغه
وعده کړے شوے ابدی ميراث حاصل کړی، ځکه چې کومه قربانی چې مسيح ورکړه
هغې هغوئ د هغه اولنی لوظ د خطاګانو نه آزاد کړل. ۱۶ ځکه چرته چې وصيت دے
هلته د وصيت کوونکی مرګ ثابتول هم ضروری دی، ۱۷ ځکه چې وصيت د مرګ نه
پس جاری کېږی او ترڅو چې وصيت کوونکے ژوندے وی تر هغې دا وصيت نۀ جاری
کېږی. ۱۸ هم دغسې اولنے لوظ هم بغېر د وينې نه نۀ وو شوے. ۱۹ ځکه چې کله
موسیٰ ټول اُمت ته د شريعت هر يو حُکم واورولو نو هغۀ د سخو او چېلو وينه د اوبو او
سرې ورۍ او د ويلنې سره راواخسته او په خپله يې په هغه کِتاب او په ټول اُمت
ونوستله، ۲۰ او هغۀ وفرمائيل چې، ”دا د هغې لوظ وينه ده د کوم حُکم چې خُدائ پاک
تاسو له درکړے دے.“ ۲۱ او هم دغه شان هغۀ په خېمه کښې او په عبادت کښې
استعمالېدونکو ټولو څيزونو باندې وينه ونوستله. ۲۲ په حقيقت کښې ټول څيزونه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شریعت په مطابق وینه پاکوی، او بغیر د وینې د تویولو نه د ګناهونو معافی نۀ کیږی.

## د حضرت عیسیٰ مسیح په قربانۍ ګناه ختمیږی

۲۳ د آسمانی څیزونو نمونې دپاره دا ضروری وه چې هغه په دې طریقه پاک کړے
شی، خو آسمانی څیزونو ته په خپله د دې نه د ښې قربانۍ ضرورت دے. ۲۴ ځکه چې
مسیح هغه مقدس ځائ ته ورداخل نۀ شو چې په انسانی لاسونو جوړ وو چې د حقیقی
عبادتخانې نقل وو، بلکې هغه په خپله په آسمان کښې داخل شو چې د خُدائ پاک په
حضور کښې زمونږ دپاره حاضر شی. ۲۵ هغه آسمان ته د خپل ځان د بار بار قربانۍ
پېش کولو دپاره داخل نۀ شو څنګه چې مشر اِمام په زمکه باندې کال په کال هغه زیات
مقدس ځائ ته د ځناورو د وینې سره ورننوځی. ۲۶ ځکه چې داسې به هغۀ د دُنیا د
پیدایښت نه دا تکلیف بیا بیا زغملو. خو داسې نۀ ده هغه اوس په یو ځل د زمانې په آخر
د ټولو دپاره راښکاره شو چې د خپلې قربانۍ په وسیله ګناه ختمه کړی. ۲۷ او لکه چې
څنګه د بنی آدم دپاره یو ځل مړ کېدل مقرر دی، او د هغې نه پس به عدالت ته وړاندې
کیږی، ۲۸ نو مسیح هم هغه شان یو ځل د ډېرو خلقو د ګناه وړلو دپاره قربان شوے
دے. نو دویم ځل چې هغه ښکاره شی نو د ګناه د قربانۍ دپاره نه، بلکې د هغوئ د دپاره
څوک چې په ډېره مینه د هغۀ اِنتظار کوی.

۱۰ ۱ ځکه چې شریعت صرف د راتلونکو ښو څیزونو سورے دے او د هغه
حقیقی څیزونو اصلی شکل نۀ دے، او کومې قربانۍ چې هر کال بې‌ناغې کولے شی دا
کله هم هغه خلق کاملولے نۀ شی څوک چې د خُدائ پاک عبادت کوی. ۲ کۀ چرې
هغوئ مکمل پاکوالے ورکولے شو، نو دا قربانۍ به ختمې شوې وې او عبادت کوونکی
به یو ځل د تل دپاره پاک شوی وُو نو بیا به هغوئ خپل ځان ګناه ګار نۀ ګڼلو. ۳ بلکې
دا قربانیانې هر کال ګناهونه رایادوی. ۴ ځکه چې دا ممکنه نۀ ده چې د غوَیانو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چیلو وینه ګناهونه لرې کړی. ۵ ځکه خو کله چې مسیح دُنیا ته راغلو نو هغهٔ
وفرمائیل چې، ”تا قربانی او نذرانه خوښه نهٔ کړه بلکې تا زما دپاره یو بدن تیار کړو. ۶
په سوزېدلې نذرانه او د ګناه په نذرانه تهٔ خوشحاله نهٔ وې. ۷ بیا ما وفرمائیل، وګوره
خُدایه پاکه، زهٔ راغلم چې ستا مرضی پوره کړم، اے خُدایه پاکه، د کِتاب مقدس په پاڼو
کښې یې زما په حقله دا لیکلی دی.“ ۸ مسیح اول وفرمائیل چې، ”نهٔ خو تا قربانی او
نذرونه او پوره سوزېدونکې نذرانې او د ګناه نذرانې خوښې کړې او نهٔ په هغې خوشحاله
شوے وې“ کهٔ څهٔ هم چې دا قربانۍ د شریعت په مطابق پېش کېږی. ۹ او بیا هغهٔ دا
وفرمائیل چې، ”وګوره، زهٔ راغلم چې ستا مرضی پوره کړم.“ هغه اولنۍ قربانی ځکه
منسوخ کوی چې دوېمه قربانی هغه ځائ ونیسی. ۱۰ او د خُدائ پاک د مرضۍ په
وسیله مونږ د عیسیٰ مسیح د بدن د یو ځل قربانېدو په وجه د همېشه دپاره پاک کړے
شُو. ۱۱ او هر یو اِمام روزانه د هغهٔ خدمت کښې ولاړ وی او هم هغه یو رنګ قربانۍ بیا
بیا پېش کوی کومې چې هیڅکله هم ګناهونه نهٔ شی ختمولے. ۱۲ خو کله چې مسیح د
همېشه دپاره د ګناهونو د ختمولو دپاره یوه قربانی ورکړه نو بیا هغه د خُدائ پاک ښی
لاس ته کښېناستو. ۱۳ او د هغه وخت نه په دې انتظار دے چې د هغهٔ دشمنان د هغهٔ د
پښو د لاندې کړے شی. ۱۴ ځکه چې هغه د یوې قربانۍ ورکولو په وسیله هغوئ د
همېشه دپاره کامِل کړل څوک چې پاک کړے شوی دی. ۱۵ او روحُ القُدس هم مونږ ته
دغه ګواهی راکوی ځکه چې هغه فرمائی چې، ۱۶ ”خو دا هغه نوے لوظ دے کوم به
چې زهٔ پس د دې نه د بنی اِسرائیلو د قبیلې سره وکړم، زهٔ به خپل شریعت د هغوئ په
مازغو کښې واچوم او د هغوئ په زړونو باندې به یې ولیکم.“ ۱۷ او بیا دا هم فرمائی
چې، ”زهٔ به د هغوئ ګناهونه او بې‌شرعې کارونه نور بیا کله هم یاد نهٔ کړم.“ ۱۸ او چې
د هغوئ معافی شوې ده نو بیا نور د ګناهونو دپاره د قربانۍ پېش کولو حاجت نشته.

## نصیحت او خبردارے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ نو په دې وجه اے ورونړو او خوېندو، مونږ د عيسىٰ د وينې په سبب زيات مقدس
ځائ ته په اطمينان سره ورننوځو. ۲۰ هغۀ د خپل مرګ په وسيله د ژوندون دپاره يوه
نوې لار د پردې د مينځ نه کولاو کړه، ۲۱ نو ځکه چې مونږ سره لوئ اِمام دے څوک
چې د خُدائ پاک د کور مختيار دے، ۲۲ نو راځئ چې د زړۀ د اخلاصه او په پوره
باور سره د خُدائ پاک په حضور کښې داخل شُو. ځکه چې زمونږ په ګناه ګار ضمير د
مسيح وينه نوستلے شوې ده چې مونږ پاک کړى، او زمونږ بدن په پاکو اوبو سره
وينځلے شوے دے. ۲۳ راځئ چې مونږ د خپل اُميد په اقرار کولو بغېر د يرېدو نه
کلک ودرېږو ځکه چا چې لوظ کړے دے هغه وفادار دے. ۲۴ او راځئ چې سوچ
وکړُو چې څنګه يو بل ته د مينې او نېکو کارونو د کولو ترغيب ورکوو. ۲۵ او چې مونږ
په خپلو کښې د جماعت د راټولېدو نه منع نۀ شُو څنګه چې د ځينو خلقو عادت دے،
بلکې يو بل له ډاډګيرنه ورکړئ، او څنګه چې تاسو د مالِک ورځ په رانزدې کېدو وينئ.
۲۶ کۀ چرې مونږ د حق د پېژندلو نه پس هم قصداً ګناهونه کوُو نو بيا زمونږ د ګناهونو
دپاره د يوې قربانۍ هم څۀ فائده نشته. ۲۷ خو يو يروونکے عدالت او غضبناک اور
پاتې دے چې د خُدائ پاک مخالفين به وسوزوى. ۲۸ هر څوک هم چې د موسىٰ
شريعت نۀ منى هغه به د دوو يا درېو ګواهانو په ګواهۍ بغېر د څۀ رحم نه هلاک کړے
شى، ۲۹ نو تاسو سوچ وکړئ چې هغوئ به د څومره زياتې سزا لائق وګرځى چا چې د
خُدائ پاک زوئ سپک ګڼلے وى، او د لوظ وينه چې هغوئ پرې پاک شوى وُو د هغې
بې‌حرمتى کړې وى، او د فضل د روح بې‌عزتى يې کړې وى؟ ۳۰ ځکه چې مونږ هغه
پېژنو چا چې فرمائيلى دى چې، ”بدل اخستل زما کار دے، بدل به زۀ اخلم،“ او بيا دا
چې، ”مالِک به د خپل اُمت عدالت کوى.“ ۳۱ د ژوندى خُدائ پاک په لاسونو کښې
ورتلل ډېره هيبتناکه خبره ده. ۳۲ خو هغه اولنۍ ورځې رايادې کړئ کله چې د خُدائ
پاک نُور په تاسو وځلېدو، نو تاسو په سخت وخت کښې مصيبتونه وزغمل او قائم پاتې
شوئ. ۳۳ تاسو په څو څو کرَته بې‌عزته او د مصيبتونو په وجه د خلقو تماشه شوئ، او
کله کله تاسو د هغوئ په بد سلوکۍ کښې هم مدد وکړو چا چې دا مصيبتونه زغمل، ۳۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قېدیانو سره تاسو همدردی وکړه، او تاسو د خپل مال لوټ کېدل په خوشحالئ سره منظور کړل، ځکه چې تاسو په دې پوهه وئ چې تاسو سره یو بهتر او د تل میراث دے.
۳۵ نو په دې وجه خپله زړۀ ورتیا مۀ پرېږدئ ځکه چې د دې ډېر اجر دے. ۳۶ نو تاسو ته د صبر ضرورت دے نو چې کله تاسو د خُدائ پاک مرضی پوره کړئ نو تاسو به دا لوظ کړے شوی څیزونه حاصل کړئ. ۳۷ ځکه، "اوس ډېر لږ وخت دے چې څوک چې راتلونکے دے هغه به راشی او ایسار به نۀ شی. ۳۸ څوک چې صادق وی هغه به په ایمان پائی. او زما زړۀ د هغوئ نه خوشحاله نۀ دے څوک چې د ایمان نه وروستو کیږی." ۳۹ خو مونږ هغه خلق نۀ یُو څوک چې ایمان نه وروستو شی او بیا هلاک شی، خو مونږ وفادار خلق یُو څوک چې به بچ شی.

## د ایمان لوئ مثالونه

**۱۱** ۱ نو ایمان دا دے چې په هغه څیزونو باور وکړُو چې د کوم په اُمید یُو، او په نالیدلو څیزونو یقین وکړُو. ۲ په حقیقت کښې زمونږ مشرانو د ایمان په وسیله د خُدائ پاک قبولیت حاصل کړو. ۳ د ایمان په وسیله مونږ ته پته ده چې عالمونه د خُدائ پاک په کلام جوړ شوی دی، نو چې څۀ په نظر راځی هغه د هغه څیزونو نه جوړ شوی دی کوم چې په نظر نۀ ښکاری. ۴ د ایمان په وسیله د خُدائ پاک دپاره هابیل د قائِن نه بهتره قربانی پېش کړه، او هم د دې په وسیله هغه د صادق په توګه منظور شو، او خُدائ پاک په خپله د هغۀ قربانی قبوله کړه، هغه مړ هم شو، خو د خپل ایمان په وسیله هغۀ زمونږ دپاره یو مثال پېش کړو. ۵ د ایمان په وسیله حنوک مړ نۀ شو بلکې آسمان ته ژوندے پورته کړے شو. هغه هیچا ونۀ موندلو ځکه چې خُدائ پاک هغه بره اوچت کړے وو، ځکه چې د هغۀ د پورته کېدو نه مخکښې دا ګواهی ورکړے شوه چې د هغۀ نه خُدائ پاک راضی دے. ۶ او بغیر د ایمان نه د خُدائ پاک خوشحالول ناممکن دی، ځکه چې څوک خُدائ پاک ته راځی هغوئ ته په دې ایمان راوړل په کار دی چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه موجود دے او چې خوک هغه لټوی، هغوئ ته اجر ورکوی. ۷ د ایمان په وسیله
نوح د هغه څیزونو په باب کښې چې تر هغه وخته په نظر نهٔ راتلل، هدایت وموندو او د
خپل خاندان د بچ کولو دپاره یې کِشتئ جوړه کړه. هغهٔ د خپل ایمان په وسیله ټوله دُنیا
مجرمه کړه او د هغه صداقت وارث شو چې د ایمان په سبب وو. ۸ د ایمان په وسیله
کله چې اِبراهیم وبللے شو نو هغه حُکم یې ومنلو او هغه ځائ ته لاړو کوم چې هغهٔ ته په
میراث کښې ملاویدونکے وو، او ورته دا پته نهٔ وه چې چرته روان دے خو بیا هم د خپل
مُلک نه روان شو. ۹ او د ایمان په وسیله په هغه مُلک کښې د مسافرو په شان دېره
شو د کوم چې ورسره لوظ شوے وو، او سره د اِسحاق او یعقوب چې هغوئ هم په هغه
لوظ وارثان وُو، په خېمو کښې اوسېدل. ۱۰ ځکه چې اِبراهیم د هغه مضبوط ښار لیدو
اُمید ساتلو چې د منصوبې ماهر او جوړوونکے یې خُدائ پاک دے. ۱۱ هم د ایمان په
وسیله ساره د ماشوم پیدا کولو طاقت وموندو، اګر کهٔ هغه ډېره بوډئ او شنډه هم وه
خو د هغې دا ایمان وو چې خُدائ پاک به خپل لوظ پوره کوی. ۱۲ نو په دې وجه بیا د
یو سړی نه چې د مړی په شان وو، چې په آسمان کښې څومره ستوری دی او چې د
سمندر په غاړه څومره شګې دی بےشمېره اولاد پیدا شو. ۱۳ هغه ټول خلق مړهٔ شول د
چا چې تر مرګ پورې د خُدائ پاک په ورکړے شوی لوظ ایمان وو. هغوئ ته هغه څهٔ
مِلاو نهٔ شو د کوم څیز چې لوظ شوے وو خو هغوئ د لرې نه دا ولیدو او ورته
خوشحاله شول. هغوئ دا خبره قبوله کړه چې په زمکه هغوئ مسافر او غیر مُلکیان وُو.
۱۴ ځکه چې کوم خلق دغه شان خبرې کوی، د هغوئ نه د دې خبرې پته لګی چې
هغوئ د خپل مُلک په تلاش کښې دی. ۱۵ کهٔ هغوئ د هغه مُلک ارمان کولو د کوم نه
چې هغوئ راوتلی وُو، نو هغوئ ته د واپس تللو موقع وه. ۱۶ خو په حقیقت کښې هغوئ
د یو بهتر ځائ، یعنې د آسمانی مُلک په تلاش کښې وُو، نو ځکه خُدائ پاک په دې نهٔ
شرمیږی چې د هغوئ خُدائ پاک دې وبللے شی، نو هغهٔ هغوئ له یو ښار تیار کړے
دے. ۱۷ هم د ایمان په وسیله اِبراهیم د آزمېښت په وخت اِسحاق د قربانئ په توګه
پېش کړو. اِبراهیم چا سره چې خُدائ پاک لوظونه کړی وُو هغه دې ته تیار شو چې خپل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یکی یو زوئ قربان کړی، ۱۸ کۀ څۀ هم چې خُدائ پاک فرمائیلی وُو، "چې هم د
اِسحاق نه به ستا نسل قائم وی." ۱۹ ځکه چې د اِبراهیم په دې ایمان وو چې خُدائ
پاک د مړو نه د بیا ژوندی کېدلو قدرت لری، نو څنګه چې هغۀ وئیل نو هم هغسې یې هغه
د مړو نه بیا ژوندے وموندلو. ۲۰ هم د ایمان په وسیله اِسحاق یعقوب او عِیسو دواړو
ته د مستقبل برکت ورکړو. ۲۱ هم د ایمان په وسیله یعقوب چې کله مړ کېدو د یوسف
وړو زامنو ته یې برکت ورکړو او د خپلې امسا په سر یې د تکیه کولو سره سجده وکړه.
۲۲ هم د ایمان په وسیله کله چې د یوسف مرګ نزدې شو نو د بنی اِسرائیلو د مِصر نه
د وتلو هدایت یې وکړو او د خپلو هډوکو د ښخولو په حقله یې حُکم ورکړو. ۲۳ هم د
ایمان په وسیله د موسیٰ مور پلار د هغۀ د پېدایښت نه پس تر درېو میاشتو پورې هغه پټ
وساتلو ځکه چې هغوئ ولیدل چې ماشوم ښکلے دے او هغوئ د بادشاه د حُکم نه ونۀ
یرېدل. ۲۴ د ایمان په وسیله موسیٰ چې کله لوئ شو نو د فِرعون د لور د زوئ بللو نه
یې اِنکار وکړو. ۲۵ هغۀ د عارضی ژوندون د یو څو ورځو عیش عشرت او ګناه په
ځائ د خُدائ پاک د اُمت سره د بد سلوک زغمل زیات خوښ کړل. ۲۶ هغۀ د مسیح
دپاره بد سلوک زغمل د مِصر د خزانو نه لوئ دولت وګڼلو ځکه چې د هغۀ نظر په لوئ
اجر حاصلولو وو. ۲۷ هم د ایمان په وسیله موسیٰ مِصر پرېښودو او د بادشاه د قهر نه
ونۀ یرېدو، او خپل سفر یې جاری وساتلو ځکه چې د هغۀ نظر په نالیدلی خُدائ پاک
باندې وو او پرې قائم پاتې شو. ۲۸ هم د ایمان په وسیله موسیٰ بنی اِسرائیلو ته د فسح
اختر کولو حکم وکړو او د دروازو په دُرشلونو باندې یې په وینه نوستلو عمل وکړو د دې
دپاره چې د مرګ فرښته د دوئ اول پیدا شوی زامن هلاک نۀ کړی. ۲۹ او د ایمان په
وسیله بنی اِسرائیل په بحرِقُلزم داسې پورې وتل لکه چې په وُچه زمکه، خو کله چې
مِصریانو د پورې وتو کوشش وکړو نو غرق شول. ۳۰ هم د ایمان په وسیله د یریحو
ښار دېوالونه د بنی اِسرائیلو تر اوو ورځو پورې ګېرچاپېره تاوېدلو نه پس راونړېدل. ۳۱
هم د ایمان په وسیله راحب کنجره د نافرمانو سره هلاکه نۀ شوه ځکه چې هغې اِسرائیلی
جاسوسان په خیر قبول کړی وُو. ۳۲ او نور زۀ څۀ ووایم؟ ځکه دومره وخت راسره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نشته چې د جدعون، برق، سمسون، جفتاه، داؤد، سموئیل او د نورو نبیانو حال بیان
کړم. ۳۳ هغوئ د ایمان په وسیله بادشاهۍ فتح کړې، د عدل او اِنصاف حکومت يې
قائم کړو او هغه لوظونه چې خُدائ پاک کړی ؤو وې موندل، د زمرو خولې يې بندې
کړې، ۳۴ د اور تاو يې بند کړو، او د تُورې د مخ نه بچ شول. هغوئ په کمزورتيا کښې
طاقت حاصل کړو، په جنګ کښې طاقتور شول او د غيرو مُلکونو فوجونه يې په تيښته
کړل. ۳۵ ښځو خپل مړی بيا ژوندی وموندل. ځينو په ځان وهل ټکول تير کړل، رهائی
يې منظوره نۀ کړه، د دې دپاره چې هغوئ ته بهتر قيامت حاصل شی. ۳۶ په ځينو
پورې يې ټوقې وکړې، په کوړو يې ووهل، او څۀ يې په زنځيرونو وتړل او په قيد کښې يې
واچول. ۳۷ ځينې يې سنګسار کړل، او په اره يې وځيرل، په تُورو يې مړۀ کړل، د ګډو
بيزو څرمنې يې اغوستې وې، په محتاجۍ، په مصيبت، د بد سلوکۍ په حالت کښې
سروهلی بروهلی ګرځېدل. ۳۸ دُنيا د هغوئ لائقه نۀ وه، هغوئ په دشتو، غرونو او د
زمکې په غارونو او سوړو کښې هواګير وګرځېدل. ۳۹ د خپل ايمان په وجه د هغوئ
ټولو ښۀ تعريف وشو، خو هغه څۀ ورته مِلاو نۀ شول د کوم چې ورسره لوظ شوے وو.
۴۰ نو خُدائ پاک زمونږ دپاره يوه ښۀ منصوبه جوړه کړې وه، هغه دا چې زمونږ سره
به هغوئ کامِل کړے شی.

## د خُدائ پاک تربيت ورکول

**۱۲** ۱ نو په دې وجه بيا چې د ګواهانو دومره لويه ګڼه زمونږ نه چاپېره ده نو راځئ
چې مونږ هم هر يو پيټے او هغه ګناه چې مونږ په آسانۍ سره انښلوی د ځان نه لرې
کړُو، او راځئ چې په هغه منډه کښې په صبر سره وزغلو چې مونږ له مقرر ده. ۲ او
عيسیٰ چې د ايمان بانی او کاملونکے دے هغۀ ته وګورو چا چې د خوشحالۍ حاصلولو
دپاره د سولۍ مرګ وزغملو او د دې په بې‌عزتۍ ونۀ شرميدلو او د خُدائ پاک د تخت په
ښی لاس کښيناستو. ۳ په هغه چا غور وکړئ چا چې د ګناهګارانو خلقو دومره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخالفت وزغملو، نو چې تاسو ستړی او بې‌همته نۀ شئ. ۴ ستاسو د ګناه خلاف
جنګ کښې تاسو لا تر اوسه دې حد پورې نۀ يئ رسېدلی چې په کښې ستاسو وينه تويه
شوې وی. ۵ او تاسو هغه نصيحت هېر کړے دے چې تاسو له د زامنو په شان په دې
ټکو درکړے شو چې، "زما زويه، د مالِک تنبيه سپکه مۀ ګڼه، چې هر کله چې هغه تا
ملامتوی، نو بې‌زړۀ کېږه مه. ۶ ځکه چا سره چې مالِک خُدائ مينه کوی نو د هغۀ
تنبيه هم کوی. او هغه هر هغه چا له سزا هم ورکوی چې هغه يې د خپل زوئ په توګه
قبول کړی." ۷ تاسو تنبيه وزغمئ، خُدائ پاک تاسو سره د زامنو په شان سلوک
کوی. پلار د هر يو زوئ تنبيه کوی. ۸ او کۀ تاسو له هغه تنبيه درنۀ کړے شی په کومه
کښې چې ټول بچې شريک دی نو تاسو حراميان شوئ، نه چې زامن. ۹ د دې نه
علاوه زمونږ انسانی پلاران څوک چې مونږ تنبيه کوی نو په دې وجه مونږ د هغوئ عزت
کوُو. نو مونږ به د دې نه څومره زياته د هغه چا تابعداری کوُو څوک چې زمونږ روحانی
پلار دے او مونږ له ژوند راکوی؟ ۱۰ هغوئ خو د لږ وخت دپاره د خپلې پوهې په
مطابق زمونږ تنبيه کوی، خو د خُدائ پاک تنبيه کول زمونږ د فائدې دپاره دی ترڅو چې
مونږ د هغۀ په پاکوالی کښې شامل شُو. ۱۱ همېشه په تنبيه کولو کښې مزه نۀ وی بلکې
هغه دردناک وی. خو وروستو دا د هغوئ دپاره د صداقت او امن مېوه ونيسی د چا چې
تنبيه شوی وی. ۱۲ نو په دې وجه خپل کمزوری لاسونه او پښې مضبوطې کړئ. ۱۳
د خپلو پښو دپاره نېغې لارې خوښې کړئ ځکه څوک چې شل ګوډ دی چې هغوئ درز
ونۀ خوری بلکې مضبوط شی.

## د خُدائ پاک د فضل رد کولو په خِلاف خبردارے

۱۴ ټولو سره د صُلح کوشش کوئ او د هغې پاکيزګۍ طلبګار اوسئ د کومې نه بغير
چې به هيڅوک مالِک ونۀ وينی. ۱۵ خو دې ته ګورئ چې څوک د خُدائ پاک د فضل
نه پاتې نۀ شی، او هسې نه چې چرته زهريله جرړه راونۀ ټوکيږی او ستاسو دپاره د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عذاب سبب شی او د هغې په سبب ډېر خلق پلیت شی. ۱۶ او د دې خبرې خیال ساتئ
چې په تاسو کښې څوک د عِیسو په شان زناکار او بېدینه نهٔ شی چا چې د یو وخت د
روټۍ په بدل کښې د خپلې مشرۍ حق خرڅ کړو. ۱۷ نو تاسو ته پته ده چې کله بیا هغهٔ
وروستو د برکت وارث کېدل غوښتل نو هغه نامنظور شو. او هغهٔ ته د توبې ویستلو
موقع مِلاو نهٔ شوه سره د دې چې هغهٔ په ویر ژړا په هغه برکت پسې ډېر لټون وکړو. ۱۸
نو تاسو هغه غر ته نهٔ یئ راغلی چې به د اور شغلو، تیارې، تورتم او طوفان راګېرولو،
لکه څنګه چې بنی اِسرائیل د سینا غرهٔ ته راغلی وُو. ۱۹ او کله چې د بیګل آواز او کلام
خلقو واورېدو نو هغوئ مِنت وکړو چې مونږ سره دې نور کلام ونهٔ کړے شی. ۲۰ نو
هغوئ دا حُکم برداشت نهٔ کړے شو چې، "کهٔ یو څناور هم د دې غر سره ولګی نو هغه
دې په کاڼو مړ کړے شی." ۲۱ هغه منظر په رښتیا سره داسې هیبتناک وو چې موسیٰ
وفرمائیل چې، "زهٔ د یرې نه ډېر رېږم." ۲۲ خو تاسو د صیون غر د ژوندی خُدائ
پاک ښار آسمانی یروشلم او د بېشمېره او د زرګونو فرښتو محفل ته راغلی یئ. ۲۳ او
تاسو د خُدائ پاک اول پیدا شوو مجلس ته راغلی یئ د چا نومونه چې په آسمان کښې
لیکلے شوی دی. تاسو خُدائ پاک له راغلی یئ چې د ټولو خلقو منصف دے، او تاسو
د صادقانو روحونو ملاقات له راغلی یئ چې کامِل شوی دی، ۲۴ او تاسو د نوې لوظ
مینځګړی عیسیٰ او د هغهٔ نوستلے شوې د شهادت وینې له راغلی یئ، او د هغهٔ قربانی د
هابیل د قربانۍ نه ډېر بهتره وه. ۲۵ نو پس خبردار شئ چې د هغهٔ نه اِنکار ونهٔ کړئ
څوک چې تاسو ته کلام کوی. نو بیا هغه خلقو ته چې د خُدائ پاک کلام په زمکه
اورولے شو، چې هغوئ رد کړو نو بچ نهٔ شول، نو هغه پیغام چې د آسمان نه اورولے
کیږی کهٔ د هغهٔ نه مخ اړوُو نو څنګه به بچ شُو؟ ۲۶ د خُدائ پاک آواز هغه وخت زمکه
ولړزوله خو اوس هغهٔ دا لوظ کړے دے چې، "اوس یو ځل بیا به زهٔ یواځې زمکه نه،
بلکې آسمان هم ولړزوم." ۲۷ د هغهٔ د "یو ځل بیا" الفاظ دې ته اِشاره کوی چې
خوځېدونکی څیزونه به ختم شی، او نهٔ خوځېدونکی څیزونه به پاتې شی. ۲۸ نو چې
مونږ ته داسې بادشاهی ملاویدونکې ده چې هغه نهٔ خوځېدونکې ده، نو راځئ چې شُکر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګزارى او په احترام او يرې سره خُدائ پاک ته خوښ عبادت وکړو. ۲۹ نو ځکه چې
زمونږ خُدائ پاک سوزونکے اور هم دے.

## د خُدائ پاک د خوشحالولو خِدمت

۱۳ ۱ د وروڼو او خوېندو په شان د يو بل سره مينه کوئ. ۲ د مسافرو د
مېلمستيا کولو نه بېپرواه کېږئ مه، ځکه چې د دې په وجه ځينو خلقو د فرښتو
مېلمستيا هم کړې ده خو پوهه شوى نۀ دى. ۳ قېديان داسې يادوئ لکه چې تاسو
ورسره په قېد کښې يئ، او چې د چا سره بد سلوکى کيږى، هغوئ داسې ګڼئ لکه چې
تاسو سره په خپله بد سلوکى شوى وى. ۴ په کار دى چې ټول د وادۀ احترام وکړى،
او ښځه او خاوند دې د يو بل سره وفادار پاتې شى ځکه چې خُدائ پاک به په خپله د
حرامکارو زناکارو عدالت کوى. ۵ د پيسو د مينې نه خپل ځان وساتئ او څۀ چې
درسره دى په هغې صبر کوئ، ځکه چې خُدائ پاک فرمائيلى دى چې، ”زۀ به هيځکله هم
تاسو نۀ پرېږدم، او تاسو به هيځکله نۀ هېروم.“ ۶ نو ځکه مونږ ډېر په زړۀ ورتيا سره
وايو چې، ”مالِک زما مددګار دے، زۀ به ونۀ يرېږم، انسان به زما څۀ وکړى؟“ ۷ خپل
مشران ياد ساتئ، چا چې تاسو ته د خُدائ پاک کلام بيان کړو. د هغوئ د ژوند د طريقو
نتيجو ته غور وکړئ او د هغوئ د ايمان سره سيالى کوئ. ۸ عيسىٰ مسيح پرون، نن
او تل تر تله يو شان دے. ۹ د هر قسم او مختلف تعليمونو په وجه بېلارې کېږئ مه،
ځکه چې دا ښۀ ده چې زړۀ په فضل مضبوط شى، نۀ د هغه خوراکونو په اصُولو کومو
چې هغوئ ته څۀ فائده نۀ ده ورکړى چا چې دا منل. ۱۰ زمونږ داسې قربانګاه ده چې
هغوئ ترې د خوراک کولو حق نۀ لرى څوک چې په خيمه کښې خدمت کوى. ۱۱ مشر
اِمام د ځناورو وينه زيات مقدس ځائ ته د ګناه د کفارې په طور وړى، خو د هغوئ
لاشونه د خيمې نه بهر سوزولے شى. ۱۲ نو ځکه عيسىٰ هم د ښار د دروازې نه بهر
تکليف وزغملو د دې دپاره چې د خپلې وينې په وسيله خلق مقدس کړى. ۱۳ نو راځئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې هغۀ له د خېمو نه بهر ورشُو او هغه بےعزتی وزغمو چې هغۀ زغملې وه. ۱۴ ځکه
چې دلته زمونږ يو ښار قائم پاتې کېدونکے نشته بلکې مونږ د هغه ښار په لټون کښې يُو
چې راتلونکے دے. ۱۵ ځکه دې د عيسىٰ په وسيله مونږ مسلسل خُدائ پاک ته د شُکر
گزارۍ قربانی پيش کوُو او دا د ذکر هغه مېوه ده چې د هغۀ د نوم اقرار کوی. ۱۶ او
نېکی کول او سخاوت مۀ هېروئ ځکه چې خُدائ پاک په داسې قربانو خوشحالېږی. ۱۷
د خپلو مشرانو خبره اورئ او د هغوئ د حُکم تابعداری کوئ ځکه چې هغوئ ستاسو په
روحانی ژوند نظر ساتی او خُدائ پاک به د هغوئ په خپله تپوس کوی، نو هغوئ دې
خپله ذمه واری په خوشحالۍ او بےشکايته سر ته رسوی، هسې نه چې تاسو ته د دې نه
څۀ فائده مِلاو نۀ شی. ۱۸ زمونږ دپاره دُعا کوئ ځکه چې زمونږ يقين دے چې زمونږ
ضمير پاک دے او زمونږ خواهش دے چې په هر لحاظ د عزت ژوند تېر کړُو. ۱۹ زۀ
تاسو ته خاص درخواست کوم چې دُعا وکړئ نو چې زۀ زر تاسو له بيا راشم.

## برکت او آخری سلام

۲۰ اوس دې د سلامتۍ خُدائ پاک چا چې د تل د لوظ د وينې په وسيله زمونږ مالِک
عيسىٰ چې لوئ شپون دے د مرګ نه بيا راژوندے کړو، ۲۱ هغه دې د خپلې رضا پوره
کولو دپاره تاسو ته هر څۀ درکړی او هغه دې د عيسىٰ مسيح په وسيله مونږ کښې هغه
کارونه وکړی څۀ چې د هغۀ خوښ وی. د هغۀ حمد و ثنا دې تل تر تله وی. آمين. ۲۲
اے وروڼو او خوېندو، زۀ تاسو ته مِنت زاری کوم چې زما د نصيحت په کلام باندې
غور وکړئ، کومه لنډه ليکنه چې ما تاسو ته وکړه. ۲۳ زۀ غواړم چې تاسو خبر شئ
چې زمونږ ورور تيموتيوس آزاد شو. کۀ چرې هغه دلته زر راشی نو زۀ به هغۀ سره تاسو
له ملاقات له درشم. ۲۴ خپلو ټولو مشرانو او ټولو مقدسينو ته سلام ووايئ. د اِټلی
ايمانداران وروڼه تاسو ته سلام کوی. ۲۵ او په تاسو ټولو دې فضل وی، آمين.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.